دلوګر نومواتي او وتلي څېرې / چهرهای مشهور و شناخته شده لوګر

د اروابناد مولوي عبدالله «فیض الباري» پیژندګلوی



د اسلام داعي، علمي، جهادي او د افغانستان په سیاست کې مطرح شخصیت، د افغانستان پخوانی قاضي القضات او د سترې محکمې رییس او د حرکت انقلاب اسلامي مردم افغانستان مرستیال الحاج مولوي عبدالله فیض الباري ژوند ته لنډه کتنه: اروابناد مولوي صاحب عبدالله فیض الباري د اروابناد ملا صاحب عبدالقادر اخند زاده زوی چې په ۱۳۲۹ هجري لمریز کال د لوګر ولایت په مرکز د حصارک په کلي کې زیږېدلی.

لومړنی دیني زده کړې یې له خپل پلار څخه چې یودیني عالم اوروحاني شخصیت ؤ سرته ورسولې اونورې لوړې خصوصي دیني زده کړې یې دهیواد په یو شمیر لویو دیني مدارسو کې چې دلوګر اوغزني ولایت دیني مدارس اودکندز ولایت د تخارستان دارالعلوم کې دهیواد له یوشمیر نامتو اوجیدو علماء کرامو څخه ترسره کړیدي. خدای بښلی مولوي صاحب په ۱۳۵۷ کال کې دکابل پوهنتون دشریعتو د پوهنځي دفقه اوقانون د رشتې دوروستي ټولګي اول نمره محصل ؤ، چې ۱۳۵۷ هـ ش کال دثور په اوومه دکمونیستي رژیم کرغېړنې کودتاه یوځل بیا افغانان دغم اوبد بختي په ټغر کښینول. نومورې هم دخپل دیني او اسلامي مسولیت اورسالت پر اساس دتحصیل په څنګ کې یې دحق دعوت اوباطل په وړاندې مبارزه کې دهیڅ ډول تهدیدونو پروا نه ساتله اود اخرني سمیستر پواځې خو امتحانونه یې پاتې ؤ، چې بیا هم نومورې دخپلوپاکو او باعزمه احساساتو حتی خو ساعتونه هم دسره ښکیلاک دغلامې لاندې ژوند ونه شو زغملای اوبیاېې هم دتحصیل په ځای د مقدس جهاد ډګر ته ترجیح ورکړه اوپاتې امتحانونه یې دکابل دفتحې اوکمونیستي رژیم له نسکوریدو وروسته تکمیل او له یاد پوهنځي څخه یې دفراغت سند ترلاسه کړ، چې دایه خپله دتحصیل سره دنومورې بې نهایت دعلاقمندی اوتینګ عزم ښکارندویي کوي. د خدای بښلی مولوي صاحب د دیني سیاسي او جهادي مبارزې دو هم ډګر دلوګرولایت ؤ، چې نومورې پکې پوره دوه کاله دمجاهدینو په صفوفو کې دحرکت انقلاب اسلامي د تنظیم فرهنګي مسؤل ؤ، چې بیا نومورې دحرکت انقلاب اسلامي دامیر اروابناد مولوي صاحب محمد نبي محمدي په غوښتنه دمجاهدینودهجرت دیارته راوغوښتل شو، چې بیا دهغه په هدایت دنومورې تنظیم فرهنګي رییس اوداجراییه شورا غړی شو. همدارنګه خدای بښلی مولوي صاحب دیادې دنډې په خواکې دمجاهدینو دبچیانو دښوونې اوروزنې دنصاب غړی اوبیا رییس وټاکل شو، چې د اروابناد مولوي صاحب دلوړفکر په بنسټ جوړشوی ښوونیزنصاب دافغانستان دښوونیزو نصابونو په منځ کې ترټولو ممتاز نصاب بللی شو. علاوه پردې مولوي صاحب په پیښورکې دمجاهدینو دموقت حکومت داوپراسیون دعمومي ریاست اودفاع وزارت نماینده او دتنویرالمجاهدین د ریاست رییس هم ؤ.

دکابل دفتحې پرمهال خدای بښلی مولوي صاحب دحرکت انقلاب اسلامي دتنظیم باصلاحیته نماینده اودهغه پنځوس کسیزه هیآت برجسته غړی ؤ، چې موخه یې دکمونیستي پرځول شوې نظام دقدرت انتقال اودمجاهدینو دیو واقعي آرماني اسلامي نظام جوړول ؤ.

مولوي صاحب دخپل لوړلیاقت او فوق العاده استعداد په اساس په نومورې نظام کې دافغانستان دجهادي شورا عمومي منشي او دافغانستان داسلامي دولت قاضي القضات اودسترې محکمې رییس وټاکل شو. علاوه پردې اروابناد مولوي صاحب په کابل کې د حرکت انقلاب اسلامي دمرکزي دفترسرپرست او دنومورې تنظیم نماینده هم ؤ. د یادونې وړده ،چې دافغانستان په ستره محکمه کې د اروابناد په ابتکار رامنځته شوي نوښتونه تراوسه هم دکابې دکرښې په شان په ځای پاتې دي.په افغانستان کې دمجاهدینود یوبانیاته واقعي اسلامي نظام ارمانجن مولوي صاحب په کابل کې دکورنیوجګړو دپیل نه وروسته دحرکت انقلاب اسلامي د سترقاید او امیر اروابناد مولوي صاحب محمد نبي محمدي په خوښه اوهدایت د خپل دنډې څخه استعفا وکړه اوله هغه وروسته د ژوند تر آخرنۍ ورځې د وخت حکومتونو ورته دافغانستان دسترې محکمې دریاست په ګډون د خپلې خوښې وزارتونو او لوړو حکومتي دندو دترسره کولو مکرر وړاندیزونه کول اویو زیات شمیر دوستانو به هم د نومورې له خوا نه ددغه وړاندیزونو په منلو ټینګار کاوه، خو اروابناد به په جدیت سره ردول او ویل به یې هغه څه چې زما آرمان ؤ ونه شول، نور نو دحکومتي لوړو دندو په ځای چې دملت آرمانونه پکې تحقق ونه مومي همدا د ملنګي ژوند غوره بولم.

خوبیا یې هم د خپلې دیني اوعلمي مبارزې ډګرسوړ ندی پریښې او د وخت د نظامونو دناصح او مصلح په توګه یې تل نه ستړې کیدونکي هلې ځلې کړې چې له دې جملې څخه یې د ۱۳۹۴ هـ.ش کال د غویې یا ثور په اتمه په لوګرولایت کې هغه هرارخیزه وروستنی تاریخي وینا چې دافغانستان اونړی په موجوده حالاتو، افغانستان اونړی کې دمسلمانانو په هیلواو په هیواد کې دحکومت او ملت په مسولیتونو متمرکزه وه، یادولی شو، چې دچارواکو اوهیوادوالو دتکبیر په یې اختیاره نعرو اوهغه ته داحترام په دریدو بدرګه کیده . اروابناد مولوي صاحب د افغانستان اونړی د سیاسي حالاتود ځیرنې په خوا کې د شاګردانو د روزنې، تدریس او تالیف مسولیتونه هم خپله اهمه دیني وجیبه بللې، چې دلوګر ولایت د محمدي دارالعلوم تاسیس یې دیبلکې په توګه یادولای شو، چې نن سلګونه شاګردان آن ترخوارلسم ټولګي پکې رسمي زده کړې کوي او نومورې پکې دخپل ژوند تروروستنی ورځې پورې د استاد او رهنما په توګه کارکاوه. علاوه پر دې اروابناد مولوي صاحب د خپل مبارک ژوند په دوران کې زیات علمي اثار لیکلي دي او یوه لحظه هم وربانديې مطالعې ،تحقیق او لیکنې ځنه نه تیریده.

(د اسلامي دولتونو انحطاط د نوي استعمارپه مقابل کې له قرآن ځنه پیداکړې) داروابناد هغه لیکلې اثر دي، چې فقط دوه ورځې مخکې له وفات ځنه یې تکمیل کړ او نور تکمیل شوي اثار یې عبارت دي لـه : قرآنکـریم دژبـاړې ډولونـه اوحکـم د تفاسیرو،احادیثواو فقهي په رڼاکې ، فقهي قواعـد، طبقـات الفقهـا ، تنویرالمجاهـدین، المـوجزفي العقیـده، المـوجزفي اصـول فقـه الحنفـي، دنورالانوارپښتو ژباړه، دهدایې دبعـي او شـفعې برخې ترجمه، د سورت بقره ترجمـه او تحقیـق، د سورت یوسف ترجمه اوتحقیـق، او ځینـي نـورې تصوفي اوسیاسي لیکنې . پـاتې دنـه وې، چـې د اروابناد مولوي صـاحب زیـاتې مقـالې، دینـي اوسیاسي لیکنې اومرکې په یوشمیر ملـي او بـین المللي رسنیو کې هم خپرې شویدي او ځینـي نـور غـړیزو او ویډیویي ریکارډونه چې مختلف دیني او سیاسي موضوعات په بر کې نیسـي دنومـورې د تندې ماتوونکو اثارو څه بللی شو. د اروابناد مولوي صاحب وروستی ارمـان د علمـاوو ، مجاهـدینو او متدینو روشن فکرانو او له هغه څخه دحرکت انقلاب اسلامي د یوباکفایته دیني او سیاسي ټولنې رامنځته کول ؤ، چې په هغه کې د یوواقعي اسلامي نظـام د تحقق کفایت متصور ؤ، چې هـدف یـې دحرکـت انقلاب اسـلامي افغانسـتان د تنظـیم پـه شـه او پرمختللي بڼه را ژوندی کول ؤ.

مولوي صاحب ددې هدف لپاره یې ډیرې صادقانه، مخلصانه او نه ستړې کیدونکي هلې ځلې وکړې، تر هغه چې ونه شو نو بیایې دحرکت انقلاب اسـلامي مردم افغانستان دتنظیم په رسمیت موافقـه وکـړه، ولې دتنظیم دټولو مجاهدینو او علماؤ ټینګـار دا ؤ، چې مرحوم مولوي صـاحب د دې تنظـیم مشـري اورهبري په غاړه واخلي. ولـې اروابنـاد مولـوي صاحب به په جدیت سره دغه خبره رد کوله او تل به یې ویل، چې زه دځان لپاره نـه بلکـې دعلمـاوو اومجاهدینودآرمانونو د پوره کولـو لپـاره یـوې باثباته پایګاه ته معتقـد یـم اومناسـبه داده، چـې یوځوان او با انرژي شخص چې د ډیرو منډو او ترړو زغم ولري دغه مسؤلیت په غاړه واخلـي چـې بیـا دتنظیم دټولومجاهدینواوعلماوو په مکـرر ټینګـار مرحوم مولوي صاحب دهمدې تنظیم دمرستیال پـه توګه غوره شو .

نومورې دغه آرمان ته درسیدولپاره حتـی دخپـل ژوند داخرنۍ ورځې وروستنۍ شیبې یې هم ددغو مبارزوملګرو سره تیرې کړې چې له هغوی سره یې دا دژوند وروستنۍ مخه نښه وه .

اروابناد مولوي صـاحب د ۱۳۹۴ هـ.ش کـال د غویې یا ثور دمیاشتې په یوولسمه د جمعې د سـهار په څلورنیموبجو دسهار د لمانځه د ادا کولو وروسته دقرآنکریم د تلاوت پرمهال د اجل داعي ته لبیـک ووایه او هغه وروستنی آرمان او عرض یـې خپـل لوی څښتن ته یووړ . (انا لله وانا الیه راجعون)

روح یې شاد او یادونه یې تل ژوندي وي !

ترتیب کوونکی : عزت الله «فیض الباري»

لوګر پیژندنه / لوګرشناسی مورِ سره مرسته وکړئ، چې ستاسو کلی هم در وپیژنو!

ازره ولسوالی

څرنګوالی او تاریخچه :

آزره ولسوالی ډېر پخوا د کابل ولایت یوه اړونده درېمه درجه ولسوالی وه، چې بیا وروسته د لویې پکتیا اړونده ولسوالی شوه، چې اوس مهال د لوګر ولایت دویمه درجه ولسوالی ده.



د لوګر ولایت یاده سرحدي ولسوالی د لوګر له مرکز پل علم څخه کابو (۹۰) کیلو متره د لمر خاته خوا ته پرته ده چې د مرمې په سیمه کې د ډېورنډ له کرغېړنې کرښې سره شا و خوا (۱۲) کیلو متره ګډه پوله لري.

د ازرې ولسوالی ډېرې سیمه غرنیزه ده چې غرونه یې په طبیعي ځنګلو پوښل شوي دي.

د ازرې ولسوالی د یوې اوږدې درې په څېر دنګو دنګو غرونو کلا بنده کړې ده چې غرونه یې ګڼې ونې او پرېمانه بوټي لري .

ددې ولسوالی ډېرنښت ډېر په ژړه پوړې دی، درې درې غرونه لري .

ځینې درې یې لوېدیځ نه د ختیځ په لور شمال نه د سویل په لور سویل نه د شمال په لور او د آسمان څکې سپین غره (سیکارام) لوړې څوکې څخه ځینې درې د سویل ختیځ نه د شمال لوېدیځ په لور غځېدلي دي چې ټولې درې مرکزي درې ته ورګډې شوې دي، یوازې د تورە پانې او خړې تیرې له درې پرته چې هغه د آریوب ځایږو د لوېدیځ درې سرچینه جوړه وي.

د آزرې ولسوالی ځلور خواوې:

د آزرې ختیځ او شمال ختیځ ته د ننګرهار ولایت د حصارک ولسوالی جوکان ، سپینه کلا ، ناور سیمې او د ولسوالی مرکزې سیمې او وچ خوړ موقعت لري.

د آزرې شمال ته د کابل ولایت د خاک جبار ولسوالی د خاک جبار کتارې سیمې، د ننګرهار د حصارک، علی شېر، ناصر او د لوګر د محمدآغې ولسوالی د مس عینـک کـان سـیمه چې د کابـل لـه موسـهې ولسوالی سره نښتې ده پرته دی.

د آزرې لمـر لوېـده تـه د لـوګر ولایـت د محمـدآغې ولسـوالی د سـرخاب دره او همدارنګـه د خوښـې ولسوالی د دوبندي او کارېزو چیناري ، ارپښ او د لټه کورې سیمې او د زرګل غر پروت دی.

د آزرې سـویل لوېـدیځ تـه د پکتیـا ولایـت د زرګـل تنګي او احمد ابا ، تورە پانې او مچلغو سیمې پرتې دي.

د ازرې سـویل تـه د پکتیـا ولایـت د احمـد خېلـو ولسوالی د کړکین غره ، علي خېلو ولسوالی د کټه سنګ خرلوتی او درکیـان شوم خېلو دره کسـڅګي، متونګی غر، خر چتل کلی او رویدار سیمې پرتې دي.

د آزرې ولسوالی سویل ختیځ ته د سپین غر منډیر ، کړکی (مرمې) کنډو ته نږدې د کورمې ایجنسۍ سره (۱۲) کیلو متره له ډېورنډ کرغېړنې کرښې سره ګډه پوله لري.

د آزرې ولسوالی لنډه پېژندنه:

ځینې شفاهي ادبیات او اوسنې مخکښان د آزرې ولسوالی د وجه تسمیې په اړه دوه نظرونه لري:

په ازره د نوم اېښودل:

لومړۍ: په ډېرو نکلونو کې راغلي چې له اسلام نه وړاندې وختونو کې د سونیانو په پاچاهي کې د افغانستان په جنوبي برخه کې د کابل لرغوني ښار ته نږدې یو لرغونی ښار وه.

ددې لرغوني ښار د موقعت په اړه بیلابیلې حوالې ورکړل شوې، څوک یې د اوسني لوګر ولایت د خروار ولسوالی د ځمکې لاندې ښار بولي، ځینې یې د لوګر د عینکو د مسو کان ته څېرمه، د ځمکې لاندې ښار بولي.

او ځینې لوګر مېشته پخواني خلک یې د کافر کلا یا پورک بولي.

شفاهي نکلونو زیاتوي، چې د نومورې ښار پاچا هېڅ زوی نه لاره او یوازې درې لونې(شهزادګی) درلودې؛ تېره ، ازره او میرزکه یې نومونه ول.

دوی د خپل پلار تر وفات وروسته یې هرې یوې د وړو پاچاهیو سیمې ځانتـه غـوره کـړې او پلرنـی شتمنی هرې یوې له ځان سره ولېږدوله .

نو آزره د یـوې شهزادګی نـوم وو چې هلتـه یـې وړه پاچاهي لرله، ددې وړې پاچاهي مذهبې چارې یې په خپله پر مخ وړې او د اسلام مبارک دین له راتګ سره سم یې مذهبي مشرتوب د هغې د اولادونو له لاسه ووت.

د آزرې اوسنې خلـک د آزرې پـه سـرو غونډیو کـې پخـوانی پاچاهي تاییـدوي چې پـه کې کـړې او لـه ځمکې لاندې زاړه دېوالونه موندل کیږي.

د آزرې د نوم په اړه بل نکل:

ډېر پخوا ځینې نکل کوونکي وایي چې: (کابل کې ځکه سلېمان علیه سلام د غرمې خوب کاوو ، چې له همدې لارې به له ختیځ ځخه لوېدیځ او له سویل ځخه شمال تـه تېرېده او تر هغـه وړانـدې او وروسـته ډېر پاچاهانو به کابل کې هسـتوګنه کولـه هر چا بـه چې وغوښتل د پکتیا کورمې او د ننګرهار له لوري چې د کابل پـه شـاهانو حملې وکړې، لـه آزرې بـه یې ګټنـه کولـه او کابـل شاهانو لـه نظامـي ارزښتـه ډکـه سیمـه (آزره) د دفاع په نوم ساتله، دوئ بـه دې سیمې تـه د دفـاع وزر نـوم ورکـاوو چـې وروسـته ازر او پـه آزره بدلې شوې.)

دغه راز مفتي شمس الرحمن د آزرې په اړه داسې نظر څرګند کړی دی:

آزره لـه ازر ځخـه اخیسـتل شـوې او د ازر ریښـه وزر دی، دی وایي حضرت موسی علیه سلام، الله تعالی ته سوال وکړ چې زما ملا او بـازو د زورور په ملاتړ مضبوط کړه نو ازره د کابل مټ او مقاومت وزر(ازره ده.)

د ډېورېنډ لـه کـورمې ایجنسـۍ سـره د لـوګر د سرحدي ولسوالی ازرې په جنوب ختیځ کې سرحدي کلي او مېشت قومونه د مرمې په سیمه کې عبارت دي له:

معروف خېل، شېخان، درکي خېل او دادي خېل چې دا قومونه د خروټو قوم پورې اړه لري.

رضا خېل، څېړې او نغلک چې په دې سیمو کې شینواري او ملاخېل هم لږ لږ شته.

د ډېورېنډ کرښې هاغه غاړه کلي:

د ګبۍ پـه سـیمه کې د تـرې منګـل، کـوتري، سـور سورنګ، ګل بزنه او علي منګوله.

د سپین غره په لمن کې د برې پښـتون خوا (کورمې ایجنسـۍ) خروټي، پېـوار، شـېروزان او د پـاړه چینار سرحدي کلي پراته دي.

د آزرې ولسوالی په سویل کې د پکتیـا ولایت سره سرحدي کلي د لکی په سیمه کې:

شېخان، رضاخېل، درکي خېل، دادي خېل او منګل دره.

د پکتیا ولایت سرحدي کلي د ازرې ولسوالی سره: ګودګی، سرګل، میر خېل، بلوټ او رویدار دره.

د سپین جومات په سیمه کې د پکتیا ولایت د ځائي اریوب ولسوالی د آزرې سرحدي کلي:

سـلطان خېـل، سـپین جومـات، هسـکه مېلـه او اوبښتی دره.

د پکتیا ولایت د ځائي آریوب ولسوالی د ازرې له ولسوالی سره سرحدي کلي:

تختکی، خر لوټی او د ځائیو خر چتل.

د آزرې ولسوالی لـه پکتیـا ولایـت سـره پـه جنـوب لویدیځ کې د احمد ابا له ولسوالی سره سرحدي کلي د خړې تیرې په سیمه کې: صدي خېل، جانبې خېل، صاف خېل، د خړې تیرې او تورە پانې په شمول.

لـه آزرې سره د پکتیـا ولایـت د احمـد ابـا ولسـوالی سرحدي کلي: د ځائیو غـوږیزه، برګیـان او سـپینه کلا.

د خوښی له ولسوالی سره د ازرې له ګمران، اره پښ او لټکورې په سیمه کې: قاسم خېل، جان خېل، دادو خېل، علیم خېل او حنیف خېل.

پـه لویـدیځ کې د آزرې لـه ولسـوالی سـره د خوښـی ولسوالی سرحدي کلي د لټکورې په شاو خوا کې: د دوبنـدي دره، د کنـډاوو د شـېخ ملـي، بـریم، شېراغه، ګاوجه او د درخ کلي پراته دي.

ترتیب کوونکی : دلوګر داطلاعاتواوفرهنګ ریاست

خلک او فیسبوک

Abdullah Hamdard

زندګی همـین‌طـور اسـت؛ مسـیری است همیشګی با حوادثی ګه فراز و نشیب های آن را ایجاد می‌کنند. تنها زمـانی کـه از مسـیر آرام زنـدګی خـارج مـی‌شـویم، مسیرهای جدیدی را کشف می‌کنیم؛ مسیرهایی که طی کـردن شـان د شـوارتر امـا در عـین حال جالـب تـر و غنی‌تر از مسیر همیشګی است کـه از سر راحتـی آن را برګزیده بودیم .

Wadan Sapi

پیسه دار سړی چې غوسه شي خلک وایـي د حـاجي صـاحب فشـار جیـګ شوی ، غریب چې غوسه شي وایي لېونی دی ماغزه یې خراب شوي!!

Fazlullah Noori

ژوند یو داسې بیابان دی چې د انسان پکې د هیلـو مـوزې پـه پښـو او مـزل کوي.

هیلې سراب ته ورته دي او د ژوند په اسانبدو کې رغنده رول لوبوي.

Mansoor Yaganeh

شخصـیت ماننـد درخـت و شـهرت مانند سایه است، سایه چیزی است کـه مـا فکـر میکنـیم ، درخت چیـزی است که واقعی است ...

Muneer Stanikzai



خپل برخلیک په خپله وټاکئ، داسي ژوند انتخاب کړئ، چې تاسي ئې د ځان لپاره لازم ګڼئ.

د خپل ځان لپاره هغـه ځانګړتیـاوي او لورتیـاوي چې غواړئ ترلاسه ئې کړئ.

خپـل ځان تـه پـه ستر ارزښت وګورئ. د تېر وخت زړه تنګي او محدود ژوند بدل کړئ، او د نوي ژوند دپیل او پراختیا لپاره کار وکړئ.

درنښت

لانجه څه ده؟

لانجه د نظر اختلاف دی، هغه حل کړئ .

لانجه دوه مختلف نظرونه دي، هغه وڅېړئ .

لانجه دژوند یوه برخه ده، هغه ومنئ .

لانجـه یو چلند دی، پـه هغـه کـې افهـام او تفهـیم وکړئ .

لانجه خطردی، په هغه کې احتیاط وکړئ .

لانجه په هرځای کې شته، هغه وپیژنئ .

لانجه منفي ده، دهغې اړخ ته تغیرورکړئ .

لانجه ضرررسونکي ده، دهغې مخنیوی وکړئ .

لانجه اخ او ډب دی، هغه آسانه او تحلیل کړئ.

لانجه ټکردی، هغه کنټرول کړئ.

لانجه وهل او ټکول دی اوربندوکړئ.

لانجـه د تـوافـق نشـتوالی دی، خپـل مشـکل حـل کړئ .

لانجه اوردی، له هغې مثبته ګټه واخلئ .

لانجـه انسـان سره یوځای ده، بایدلـه هغـې نـه ښـه ګټه واخلئ.

راځئ، چې ټولې ستونزې پرته له لانجو او شخړو حل کړو او خپل ژوند ته آرامتیا ورپه برخه کړو !

رالیږونکی : احمد فیصل (دوران)